# آیا تاسو ټي ټي سي یا ویلټرانس کې سپرېږئ؟



د ټرانسپورټ د پاس تخفیف (فئیر پاس ټرانزیټ ډسکاونټ) کولای شي تاسوته په هره سوارۍ کې 1.10 ډالره او په میاشتنۍ پاس کې 32.75 ډالره سپما کړي.

## څوک کولای شي د پاس تخفیف تر لاسه کړي؟



هغه اوسیدونکي چې ټول لاندني اړتیاوې پوره کړي:

- ☑ په ټورنټو کې ژوند وکړي
- ☑ د 20 تر 64 کاله عمر ولري
- ☑ له لاندنې پروګرامونو څخه مرسته ترلاسه کړي:
  - د آنټاریو ټولنیز مالي مرسته (OW)
  - د آنټاریو د معلولیت د مرستې پروګرام (ODSP)
  - د ماشوم پاملرنې سبسایډي فیس چې د ټورنټو ماشومانو د خدمتونو لخوا ورکول کیږي
  - د عاید د مخې د کرایې سبسایډي (RGI)

## تاسو د غوښتنلیک ورکولو لپاره څه ته اړتیا لرئ؟



1. ستاسو د پرېسټو (PRESTO) کارټ شمېره
2. ستاسو د لاندنې پروګرامونو څخه د مرستې د لاس ته راوړلو ثبوت:
   - د آنټاریو ټولنیز مالي مرسته (OW)، د آنټاریو د معلولیت د مرستې پروګرام (ODSP)، د ماشوم پاملرنې سبسایډي فیس، او یا
   - د کور جوړونې د اداري له خوا د عاید د مخې د کرایې سبسایډي (RGI) پریکړه لیک

## همدا اوس غوښتنلیک وکړئ: toronto.ca/transitdiscount

د مرستې لپاره، **د غوښتنلیک او ملاتړ مرکز** ته په **416-338-8888** شمېره اړیکه ونیسئ.

## موږ ستاسو په ژبه خبرې کوو!



د ژباړنې خدمتونه په آنلاین توګه او د ټیلیفون له لارې شتون لري.

## تاسو د پرېسټو (PRESTO) کارټ نلرئ؟



د ټورنټو د عامه کتابتون په غوره شویو څانګو کې په وړیا توګه ترلاسه کړئ.
دلته نور معلومات لاس ته راوړئ: **torontopubliclibrary.ca/presto**

TTC | TORONTO